مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۲/۲۶

# سوی سیوری

دښمن!
د تیارو له هغي غاړي
یوه تنۍ په تورو ګوتو کښېکاږله.
شیبه وروسته لوی آسمان
زموږه په ورستو بامو راولوېد.
د دیوالونو پښني
د بوډاګانو په شان ورپېدي
او کړکیو خپلي سترګي کړلي پټي
دغه تور ساعت یې و نه شوای زغملای.
یوې مور
د دوړو منځ کي
خپل ماشوم پسي چیغي وهلي
کوڅه نه پوهېده
ښنګه مورکۍ پوه کړي
چي ماشوم یې
له لوګیو سره والوت.
خاورې بوی د وینو واخیست
او زمان څو شیبي ودرېد.
هلته
د خاور د انبار ترڅنګ
د انسان یو سوی سیوری ښوربېده
شیبه وروسته
یوه باد هغه سوی سیوری
ورو ورو د هیڅ لوري په لور یووړ.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ